# د کالج باونډ (College Bound) په اړه افواهات او حقیقتونه

| افواهات | حقیقتونه |
|---|---|
| کالج باونډ (College Bound) یوه بورسیه یا سکالرشیپ دی. | دا د ایالتي مرستې یو پروګرام دی چې له نورو مرستو (لکه د واشنګټن د کالج بلاعوضه مالي مرسته (Washington College Grant) سره یو ځای کار کوي تر څو د کالج ځینې لګښتونه تر پوښښ لاندې راولي. |
| کالج باونډ (College Bound) د هر څه پیسې ورکوي: د زده‌کړو فیس، کور، کتابونه، خواړه، او داسې نور. | کالج باونډ (College Bound) کېدای شي د زده‌کړو فیس، ځینو فیسونو، او د کتابونو لپاره لږ اندازه پیسو په ورکړه کې مرسته وکړي. د کالج ټول لګښتونه نه رانغاړي. |
| کولای شم یوازې د کالج په څلورو کلونو کې د کالج باونډ (College Bound) له پیسو څخه ګټه واخلم. | له کالج باونډ (College Bound) څخه د ټولنې د کالجونو، تخنیکي ښوونځیو، او دوو کلنو او څلور کلنو دواړو کالجونو په ګډون، د واشنګټن (Washington) ایالت له 60 څخه زیاتونو ښوونځیو کې ګټه اخیستل کېدای شي! |
| زه به هر کال په خپل سر یا اتومات ډول د کالج باونډ (College Bound) مالي مرستې ترلاسه کوم. | د وروستي کال په پیل کې، او هر کال چې کالج لولئ، باید د زده‌کوونکي فدرالي مرستې لپاره وړیا غوښتنلیک (Free Application for Federal Student Aid (FAFSA)) یا د ایالتي مالي مرستې لپاره د واشنګټن غوښتنلیک (Washington Application for State Financial Aid (WASFA)) واستوئ او پر شرایطو د برابر والي لپاره د کورنۍ د عاید، استوګنې، او علمي پرمختیا په اړه د پروګرام قواعد رعایت کړئ. |
| کولای شم یوازې د څلورو کلونو لپاره له کالج باونډ (College Bound) څخه ګټه واخلم. | وړ زده‌کوونکي کولای شئ له کالج باونډ (College Bound) څخه تر شپږو کلونو پورې (18 ربعې یا 12 سمسترونه)، یا د لیسانس سند تر لاسه کولو پورې، هر یو یې چې مخکې وي، ګټه واخلي. زده‌کوونکي باید له لیسې څخه د فارغېدلو په لومړي کال کې په ښوونځي یا روزنه کې نوملیکنه وکړي. |
| که اسناد ونه لرم، نه شم کولای کالج باونډ (College Bound) ترلاسه کړم. | که د پروګرام او د ایالت د استوګنې قواعد پوره کړئ، کولای شئ کالج باونډ (College Bound) ترلاسه کړئ! یوازې د FAFSA پر ځای WASFA بشپړه کړئ. |
| که له لیسې څخه وروسته دمه وکړم، نه شم کولای له کالج باونډ (College Bound) څخه ګټه واخلم. | کولای شئ یو کال دمه واخلئ! یوازې ډاډه شئ چې له لیسې څخه تر فارغېدلو وروسته په یو کال کې نوملیکنه وکړئ. |

**په دې اړه نور معلومات ترلاسه کړئ یا وګورئ چې وړ یئ او که نه**
collegebound.wa.gov
collegebound@wsac.wa.gov
(1 انتخاب) 888.535.0747

College Bound
WASHINGTON